# دَ کورنتیانو په نُوم دَ پولوس رسُول دویم خط

## سلام

۱ ۞ دَ پولوس له طرفه چه دَ خُدائے په مرضئ دَ مسیح
عیسیٰ رسُول دے اَؤ ورور تیموتیوس له طرفه دَ خُدائے دَ
هغه جماعت په نُوم کُوم چه په کورنتوس کښے دے اَؤ دَ
ټولو اخیه دَ پاکانو په نُوم، ۞ زمُونږ دَ پلار خُدائے اَؤ دَ
مالِک عیسیٰ مسیح دَ طرفه په تاسو فضل اَؤ سلامتی دِ
حاصله وی.

## دَ پولوس دَ خُدائے شکر گذاری

۞ زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ خُدائے اَؤ پلار ثنا دِ وی
ځوک چه دَ رحمتُونو پلار اَؤ دَ هر قِسم تسلئ خُدائے دے.
۞ هغه زمُونږ په ټولو مُصیبتُونو کښے مُونږ له تسلی
راکوی دَ دے دَ پاره چه مُونږ دَ هغه تسلئ سره چه مُونږ له
ئے خُدائے راکوی هغو ته هم مُونږ دَ تسلئ ورکولو جوګه
شُو ځوک چه په څهٔ نه څهٔ مُصیبت کښے ګیر دی. ۞
ځکه چه څهٔ رنګ دَ مسیح تکلیفُونه په مُونږ زیاتیږی دغه
شان دَ مسیح په وسیله زمُونږ تسلئ هم زیاتیږی. ۞ که
مُونږ مُصیبتُونه تیرؤو نو ستاسو دَ تسلئ اَؤ خلاصُون دَ
خاطره اَؤ که تسلی مُومُو نو ستاسو دَ تسلئ په خاطر دَ
کُومے په تاثیر چه تاسو په صبر هغه تکلیفُونه وزغمئ کُوم

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه مونږه هم زغمُو. ٧ اَؤ زمُونږ اُمید ستاسو په حقله ډیر
کلک دے ځکه چه مُونږ په دے پوهه یُو چه څهٔ رنګ چه
تاسو زمُونږ په تکلیفُونو کښے شریک یئ، هم دغه شان په
تسلئ کښے هم یئ. ٨ اَئے ورُونړو! مُونږ دا نهٔ غواړُو چه
تاسو دِ دَ هغه مُصیبت نه ناخبره پاتے شئ کُوم چه دَ ایشیا
په صُوبه کښے په مُونږ راغلو اَؤ زمُونږ دَ حد نه بهر اَؤ دَ
طاقت نه زیات وو اَؤ تر دے چه مُونږ دَ ژوندانهٔ نه هم لاس
وینځو. ٩ بلکه په خپل ځان مو دَ مرګ دَ حُکم یقین وشو
دَ دے دَ پاره چه په ځان هیڅ ویسا پاتے نهٔ شی بلکه په هغه
خُدائے څوک چه مړی ژوندی کوی. ١٠ نو هم هغهٔ مُونږ دَ
داسے لوئے هلاکت نه خلاص کړُو اَؤ خلاصوی به مو، اَؤ
مُونږ دَ هغهٔ نه دا اُمید لرُو چه وړاندے به مو هم خلاصوی.
١١ اَؤ که چرے تاسو هم په جمع په دُعا سره زمُونږ مدد
کوئ، نو خُدائے به دَ ډیرو خلقو دَ دُعا جواب ورکړی، اَؤ هم
ډیر خلق به زمُونږ دَ آزادیدو دَ خاطره دَ هغهٔ شکر وکړی.

## دَ پولوس دَ مُلاقات اِراده بدلول

١٢ مُونږ ته په دے خبره فخر دے بلکه زمُونږ زړهٔ ګواهی
کوی چه دُنیا ته اَؤ خاص تاسو ته دَ خُدائے غوندے دَ
رښتینوالی اَؤ دَ زړهٔ دَ پاکوالی سره ګُزران کولو اَؤ مُونږ دَ
دُنیا دَ حِکمت نه کار وانهٔ خستو بلکه دَ خُدائے په فضل مو
باور وکړو. ١٣ مُونږ تاسو ته نورے خبرے نهٔ لیکُو بغیر دَ
هغو نه کومے چه تاسو لولئ یا ئے منئ، اَؤ زما اُمید دے
چه تر آخره پورے به پرے پوهیږئ. ١٤ څهٔ رنګ چه تاسو
به په مُونږ فخر کوئ دغه رنګ دَ مالِک عیسیٰ مسیح په ورځ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به مُونږ په تاسو فخر کوُو.

١٥ اَؤ هم په دے باور ما دا اِراده کړے وه چه اول تاسو له
درشم دَ دے دَ پاره چه تاسو سره دوه ځله ملاقات وشی،
١٦ اَؤ ستاسو په لاره مِکدونیه ته لاړ شم اَؤ دَ مِکدونیه نه به
بیا تاسو له درشم اَؤ تاسو مے یهُودیه ته رُخصت کړئ. ١٧
پس ما چه دا اِراده کړے وه نو آیا زَهٔ ګنی خپلے اِرادے څهٔ
زر زر بدلوم؟ اؤ زهٔ دَ یو دُنیاوی سړی په شان خپله اِراده هو
په نه اؤ نه په هو کښے بدلوم؟ ١٨ لکه چه خُدائے رښتینے
دے دغه شان زمُونږ لوظ تاسو سره وو، یعنے دَ هو په
ځائے هو اَؤ دَ نه په ځائے نه. ١٩ ځکه چه دَ خُدائے زوئے
عیسیٰ مسیح دَ چا زیرے چه مُونږ، یعنے ما اَؤ سیلوانوس
اَؤ تیموتیوس په تاسو کښے خور کړے دے، په هغهٔ کښے
داسے خبرے نهٔ وے چه هو وے اَؤ بیا وروستو په نه کښے
بدلے شوے بلکه هو، هو پاتے شو. ٢٠ ځکه چه دَ خُدائے
چه هر څومره لوظُونه دی هغه په مسیح کښے هو شُو، اَؤ هم
دغه وجه ده چه دَ هغهٔ په وسیله پرے آمین هم وشو، دَ دے دَ
پاره چه زمُونږ په وسیله دَ خُدائے جلال ښرګند شی. ٢١ اَؤ
په حقیقت کښے خُدائے چه ئے تاسو اَؤ مُونږ په مسیح
کښے مظبُوط کړی یُو، هغهٔ مُونږ غوره کړی یُو، ٢٢ اَؤ خپل
مُهر ئے په مُونږ لګولے دے چه مُونږ دَ هغهٔ یُو اَؤ زمُونږ په
زړُونو کښے ئے خپل رُوح اچولے دے چه دَ راتلُونکو
برکتُونو ضمانت دے.

٢٣ زَهٔ خُدائے خپل ګواه کوم چه زَهٔ تر اوسه کورنتوس ته
ځکه نهٔ یم راغلے چه په تاسو مے رحم کیدو. ٢٤ زمُونږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مقصد دا نۀ دے چه مُونږ دَ ايمان په خبرو په تاسو خامخا
حُکم وچلوُو. مُونږ ته معلُومه ده چه تاسو په ايمان کښے
قائم يئ اَوْ مُونږ تش تاسو سره ستاسو دَ خوشحالئ سبب
جوړيدل غواړُو.

٢ ١ ما په خپل زړۀ کښے دا اِراده کړے وه چه که زما
درتلل تاسو له دَ غم سبب گرځى نو بيا تاسو له نۀ درځم. ٢
ځکه چه که زَۀ تاسو غمژن کړم نو ما به څوک خوشحالوى،
بغير دَ هغو نه څوک چه زما په وجه غمژن شوى دى. ٣ اَوْ
ما تاسو ته هغه خبره ليکلے وه دَ دے دَ پاره چه هسے نه
چه زما په راتلو چه ما ته په چا خوشحاليدل په کار دى زَۀ دِ
دَ هغوئ په وجه غمژن يم، ځکه چه زما په تاسو ټولو دَ دے
خبرے باور دے چه کُومه چه زما خوشحالى ده هغه ستاسو
دَ ټولو ده. ٤ ځکه چه ما دَ ډير مُصيبت اَوْ دَ خفگان په
حالت کښے په ډيرو اوښکو سره تاسو ته ليکلى وُو خو دَ
دے دَ پاره نه چه تاسو دِ غمژن شئ بلکه دَ دے دَ پاره چه
تاسو هغه لوئے مُحبت معلُوم کړئ، کُوم چه زما تاسو سره
دے.

## قصُوروار له مُعافى ورکول

٥ اَوْ که څوک ستاسو په مينځ کښے دَ غم سبب شوے
دے نو هغه تش زما دَ غم نه، بلکه څۀ قدرے ستاسو ټولو دَ
غم باعث شو، دَ دے دَ پاره چه په هغۀ زياته سختى ونۀ کړم.
٦ دغه سزا چه هغۀ دَ ډيرو خلقو له طرف نه ومُونده دَ
داسے سړى دَ پاره پُوره ده. ٧ پس دَ دے برعکس غوره

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دا ده چه دَ هغهٔ قصُور مُعاف کړئ اَؤ تسلی ورکړئ دَ دے دَ
پاره چه هغه دَ غم دَ زیاتوالی په وجه تباه نهٔ شی. ۸ دَ دے
دَ پاره زَهٔ تاسو ته سوال کوم چه دَ هغهٔ په حقله مُحبت
ښکاره کړئ. ۹ ځکه چه ما دَ دے دَ پاره هم لیکلی وُو چه
تاسو وآزمائیم چه تاسو په ټولو خبرو کښے حُکم منُونکی یئ
اَؤ که نه. ۱۰ تاسو چه چا ته څهٔ مُعاف کوئ هغهٔ ته ئے زَهٔ
هم مُعاف کوم ځکه چه هغه څهٔ چه مُعاف کړی وی نو دَ
مسیح دَ قائم مُقام کیدو په سبب مے ستاسو دَ خاطره مُعاف
کړی دی، ۱۱ دَ دے دَ پاره چه دَ شیطان وار راباندے
کامیاب نهٔ شی ځکه چه مُونږ دَ هغهٔ دَ چلُونو نه ناواقفه نهٔ یُو.

## دَ پولوس اندیښنه اَؤ مرسته

۱۲ اَؤ هر کله چه زَهٔ دَ مسیح زیری ورکولو له ترواس ته
راغلم اَؤ مالِک ما ته دروازه خلاصه کړه، ۱۳ نو زما رُوح
آرام ونهٔ مُوندو ځکه چه ما خپل ورور تیطوس ونهٔ مُوندو، نو
دَ هغوئ نه مے رُخصت واخستو اَؤ مِکدونیه ته لاړم. ۱۴
خو دَ خُدائے شکر دے څوک چه په مسیح کښے مُونږ لکه
دَ قیدیانو دَ فتحمندئ په جُلوس بیائی اَؤ دَ هغهٔ دَ عِلم
خوشبُوئ زمُونږ په وسیله په هر ځائے خوروی. ۱۵ ځکه
چه مُونږ دَ خُدائے په نزد خلاصُون موندُونکو اَؤ هلاکیدُونکو،
دواړو دَ پاره، دَ مسیح خُوشبُوئ یُو. ۱۶ بعضو ته دَ مړ کیدو
دَ پاره دَ مرګ بُوئ اَؤ بعضو له دَ ژوندانهٔ دَ پاره دَ ژوندُون
بوئ یُو، اَؤ څوک دے چه دَ دے خبرو لائق دے؟ ۱۷ ځکه
چه مُونږ دَ بنجاری په شان نهٔ یُو، څوک چه دَ خُدائے کلام
خرڅوی بلکه مُونږ دَ زړهٔ په صفایئ اَؤ دَ خُدائے دَ طرفه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائے حاضر کښُو اَؤ دَ مسيح دَ خادمانو په شان خبرے
کوُو.

## دَ نوی لوظ خادمان

٣ (١) آيا مُونږ بيا خپله نيکنامی ښکاره کول غواړُو؟ يا
مُونږ ته دَ بعضو په شان دَ نيکنامئ خطُونه ستاسو په لور دَ
راوړلو يا ستاسو نه دَ آخستو حاجت دے؟ (٢) زمُونږ خط
چه زمُونږ په زړُونو کښے ليکلے شوے دے، هغه تاسو يئ
اَؤ ټول خلق ئے پيژنی اَؤ لولی ئے. (٣) ښکاره ده چه تاسو
دَ مسيح هغه خط يئ کُوم چه مُونږ دَ خادمانو په طور ليکلے
دے، په سياهی نه، بلکه دَ ژوندی خُدائے په رُوح سره، دَ
گټے په تختو نه بلکه په زړۀ باندے. (۴) مُونږ دَ مسيح په
معرفت په خُدائے داسے باور لرُو، (۵) په دے نه چه گنی
په خپله مُونږ دَ دے جوګه يُو چه دَ خپله انده څۀ خيال هم
وکړو بلکه زمُونږ لياقت دَ خُدائے دَ لوريه دے، (۶) چا چه
مُونږ دَ نوی لوظ دَ خادم کيدو جوګه کړی يُو، نۀ دَ ليکلی
شريعت دَ لوظ نه، بلکه دَ رُوح دَ لوظ، ځکه چه ليکلے
شريعت وژل کوی خو رُوح ژوندے کوی. (٧) اَؤ هر کله چه
دَ مرګ هغه لوظ حرفُونه چه په گټو ليکلی شوی وُو دَ دومره
جلال وُو چه بنی اِسرائيل دَ مُوسیٰ په مخ دَ هغه جلال په
سبب کُوم چه دَ هغۀ په مخ وو په غور سره هغۀ ته ونۀ کتلے
شول، سره دَ دے چه په کميدو وو، (٨) نو دَ رُوح لوظ خو
به بے شکه دَ دے نه زيات دَ جلال سره وی! (٩) ځکه چه
که چرے مجرمُوونکے لوظ دَ جلال وو نو دَ صادقوُونکی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لوظ خو به ضرور دَ دے نه زیات جلالی وی! ۱۰ هغه جلال
چه دَ څۀ وخت دَ پاره جلالی وو نو اوس دَ جلالی څیز په
مخکښے هیڅ شے نۀ ښکاری. ۱۱ ولے چه هر کله چه فنا
کیدُونکی څیزُونه جلالی وُو نو پاتے کیدُونکے څیز خو به
خامخا جلالی وی.

۱۲ نو بیا مُونږ په دے اُمید ډیر په زړه ورتیا سره دا وایُو،
۱۳ اَؤ دَ مُوسیٰ په شان نه، چا چه دَ دے دَ پاره په خپل مخ
نقاب اچولے وو چه بنی اِسرائیل دَ هغۀ دَ فانی جلال اَنجام
ونۀ لیدے شی. ۱۴ خو دَ هغوئ زړُونه سخت شول ځکه چه
تر دے ورځے دَ زوړ عهد لوستلو په وخت دَ هغوئ په زړُونو
پرده پرته ده اَؤ دا پرده یواځے دَ مسیح په وسیله پورته
کیږی. ۱۵ خو تر دے ورځے چه کله هم دَ مُوسیٰ کتاب
لوستلے کیږی دَ هغوئ په زړُونو پرده پرته وی. ۱۶ خو چه
کله هم دَ هغوئ زړۀ دَ مالِک طرف ته راوګرزی نو دغه پرده
پورته کیږی. ۱۷ اَؤ مالِک رُوح دے اَؤ چرته چه دَ مالِک
رُوح دے، هلته آزادی ده. ۱۸ اَؤ هر کله چه زمُونږ دَ ټولو په
بے نقابه مخونو کښے لکه دَ آئنے دَ مالِک جلال داسے
څرګندیږی، نو دَ هغه مالِک په وسیله دَ هغه جلالی ذات
څوک چه رُوح دے، مُونږ درجه په درجه دَ هغۀ په شان کیږو.

## دَ خاؤرے په لوښو خزانه

۴ ۱ پس هر کله چه په مُونږ داسے رحم وشو چه مُونږ ته
دا خدمت وسپارلے شو نو مُونږ هِمت نۀ بائیلو، ۲ بلکه
مُونږ دَ شرم پټے خبرے پریښودے اَؤ دَ مکارئ چلند نۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوُو، نهٔ دَ خُدائے په کلام کښې څهٔ ګډُون کوُو بلکه حق
ظاهروُو اَؤ دَ خُدائے په نزد دَ هر چا دَ ضمیر په وړاندے
خپل ځان ښکاره کوُو. ۳ اَؤ که چرے زمُونږ په زیری پرده
پرته ده نو دا تشه دَ هلاکیدُونکو دَ پاره ده، ۴ یعنے هغه به
ایمان نهٔ راوړی ځکه چه دَ دے بدی دُنیا سردار یعنے
شیطان دَ هغوئ عقل ړُوند کړے دے، دَ دے دَ پاره چه
مسیح څوک چه دَ خُدائے په شکل دے، دَ هغهٔ دَ جلال دَ
زیری رڼا په هغوئ ونهٔ ځلیږی. ۵ ځکه چه مُونږ خپل نه،
بلکه دَ عیسیٰ مسیح دَ زیری تبلیغ کوُو، ځکه چه هغه مالِک
دے اَؤ دَ خپل ځان په حقله داسے وایُو چه مُونږ دَ عیسیٰ په
خاطر ستاسو غُلامان یُو. ۶ اَؤ خُدائے چه دا ئے وئیلی
دی چه "دَ تیارے نه دِ رڼا وځلیږی" نو هغه زمُونږ په زړُونو
کښې وځلوله چه دَ خُدائے جلال وپیژنُو چه دَ عیسیٰ مسیح
دَ مخ نه ځلیږی.

۷ دَ زیری دا کلام چه مُونږ سره دے دَ یوے خزانے په
شان دے چه دَ خاوُرو په لوښو کښې وی. خو داسے کیدل
ضروری دی چه دا ښکاره شی چه دَ حده هورته قُدرت دَ
خُدائے له طرف نه دے، نه چه زمُونږ له طرف نه. ۸ مُونږ
دَ هر طرف نه مُصیبتُونه خو اُوچتوُو خو زپلے کیږو نه،
پریشان کیږُو ضرور خو نا اُمید نهٔ یُو، ۹ تنګولے کیږو خو
یواځے پریښولے کیږُو نه، غورزولے کیږُو خو هلاکیږُو نه.
۱۰ زمُونږ په وجود کښې هر وخت دَ مسیح دَ مرګ نخښه
ده چه دَ عیسیٰ ژوندُون هم زمُونږ په وجُود کښې څرګند
شی. ۱۱ ځکه چه مُونږ په ژوندانهٔ دَ عیسیٰ دَ خاطره همیشه
مرګ ته سپارلے کیږُو چه دَ عیسیٰ ژوند هم زمُونږ په فانی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

جسم کښې ښکاره شی. ۱۲ پس مرګ خو په مُونږ کښې
اثر کوی اَؤ ژوندُون په تاسو کښې. ۱۳ اَؤ چه پاک کلام
کښې ليکلی دی چه : "ما ايمان راوړو اَؤ ځکه مې خبرې
کولې،" نو په مُونږ کښې هم دَ ايمان هغه رُوح دے، پس
مُونږ هم ايمان راوړے دے اَؤ ځکه خبرې کوُو. ۱۴ ځکه
چه مُونږ پوهيږُو چه چا چه مالِک عيسىٰ ژوندے کړے دے
هغه به مُونږ هم دَ هغهٔ سره ژوندی کړی اَؤ تاسو سره به مو
په خپل مخکښې حاضر کړی. ۱۵ څهٔ چه مُونږ په ځان
تيرؤُو هغه ستاسو دَ خاطره تيرؤُو اَؤ څنګه چه دَ خُدائے
فضل په خلقو زياتيږی نو دَ خلقو شکر ګذارئ هم زياتيږی
چه دَ خُدائے جلال ښکاره شی.

## دَ ايمان په وسيله ژوندُون

۱۶ دَ دے دَ پاره مُونږ هِمت نهٔ بائيلو اَؤ سره دَ دے چه
زمُونږ بدن ورو ورو ختميږي خو بيا هم زمُونږ رُوح ورځ تر
ورځ نوے کيږی. ۱۷ نو دغه شان زمُونږ دَ يو ساعت لږ
مُصيبت زمُونږ دَ پاره بے کچه درُوند اَؤ آبدی جلال پيدا
کوی. ۱۸ اَؤ په کُوم حال کښې چه مُونږ په ليدلو څيزُونو
نه، بلکه په ناليدلو څيزُونو نظر لرُو ځکه چه ليدلی څيزُونه
فانی دی اَؤ ناليدلی څيزُونه آبدی دی.

۵ ۱ نو مُونږ په دے پوهه يُو چه زمُونږ وجُود دَ يو تمبُو په
شان دے. کله چه دا تمبُو چه په مزکه دے، راوغورزولے
شی نو مُونږ ته به دَ خُدائے له طرفه په آسمان کښې يوه
داسې مانړۍ راکولے کيږی کُومه چه به په لاس دَ جوړ شوی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور په خیر نۀ وی بلکه آبدی به وی. ۲ ځنګه چه مُونږ په
دے وجُود کښے کړیږُو اَؤ ډیر ارمانجن یُو چه په خپل
آسمانی کور کښے داخل شُو، ۳ اَؤ په هغۀ کښے لکه په
جامه برېنډ ځان پټ کړُو. ۴ ځکه چه په دے تمبُو کښے
په اوسیدو مُونږ دَ بوج دَ زوره په زېرګو یُو دَ دے دَ پاره نه
چه مونږ دا جامه ویستل غواړو بلکه په دے باندے بله
اغوستل غواړُو، دَ دے دَ پاره چه کُومه چه فنا کیدُونکی ده
هغه په غیر فانی کښے بدله شی. ۵ اَؤ چا چه مُونږ دَ دے
کار دَ پاره تیار کړُو هغه خُدائے دے اَؤ هغۀ مُونږ ته په بیعانه
کښے خپل رُوح راکړو. ۶ ځکه چه مُونږ تل تر تله تسلی
لرُو اَؤ په دے پوهیږُو چه تر څو چه مُونږ دَ وجُود په کور
کښے یُو نو دَ مالِک په کور کښے نۀ یُو. ۷ ځکه چه مُونږ
په ایمان ژوندُون تیرَوُو، نۀ چه دَ سترګو په لیدلو. ۸ غرض
دا چه زمُونږ تسلی ده چه مُونږ دَ وجُود غوندے کور به
پریږدُو اَؤ دَ مالِک سره اوسیدل زیات خوښوُو. ۹ که مُونږ
دَ وجُود په کور کښے یُو یا دَ مالِک سره، خو زمُونږ دَ ټولو
نه لوئے مقصد دا دے چه مالِک خوشحاله کړُو. ۱۰ ځکه
چه دا ضروری ده چه دَ مسیح دَ عدالت دَ تخت په وړاندے
چه مُونږ حاضر شُو نو چه زمُونږ دَ ټولو حال ښکاره کړے
شی نو هر څوک به دَ خپلو هغو کارُونو بدل ومُومی کُوم چه
هغوئ دَ وجُود په وسیله کړی دی که بد وی اَؤ که ښۀ.

## دَ پُخلا خادم

۱۱ نو مُونږ دَ خُدائے دَ ویرے په مطلب پوهیږُو نو ځکه
مُونږ دَ اِنسان دَ قانع کولو کوشِش کوُو. په خُدائے باندے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زمُونږ حال ظاهر دے اَؤ دا اُميد دے چه زمُونږ حال به
ستاسو په ضمير هم صفا ظاهر شوے وی. ١٢ نو مُونږ
خپله نيکنامی په تاسو نهٔ زياتوُو بلکه مُونږ په خپله تاسو له
موقعه درکوُو چه په مُونږ فخر وکړئ دَ دے دَ پاره چه تاسو
هغوئ له جواب ورکړئ شئ څوک چه په ظاهر فخر کوی
خو په باطن نه. ١٣ که چرے مُونږ په خود کښے نهٔ يُو نو دَ
خُدائے دَ پاره يُو اَؤ که په خود کښے يُو نو ستاسو دَ پاره يُو.
١٤ دَ مسيح مينه مُونږ مجبوروی ځکه چه مُونږ پوهيږُو چه
که يو دَ ټولو دَ پاره مړ شو نو ټول مړهٔ شول. ١٥ اَؤ هغه دَ
دے خاطره دَ ټولو دَ پاره مړ شو چه څوک چه ژوندی دی
هغه دِ بيا دَ ځان دَ پاره نهٔ وی ژوندی بلکه دَ هغهٔ دَ خاطره دِ
ژوندی وی څوک چه دَ هغوئ دَ پاره مړ شو اَؤ بيا ژوندے
شو. ١٦ نو اوس به مُونږ دَ چا په باب کښے اِنسانی رائے
نهٔ لرُو اګر که مُونږ دَ مسيح په باب کښے يو وخت اِنسانی
رائے لرله خو اوس به داسے نهٔ کوُو. ١٧ دَ دے دَ پاره که
څوک په مسيح کښے وی نو هغه نوے مخلُوق دے، زاړهٔ
څيزُونه تير شول، وګورئ هغه اوس نوی شول. ١٨ ټول
څيزُونه دَ خُدائے له طرفه دی چا چه دَ مسيح په وسيله دَ
خپل ځان سره مُونږ پُخلا کړلُو اَؤ دَ پُخلا کولو پيغام ئے
مُونږ ته سپارلے دے. ١٩ مطلب دا چه خُدائے دَ مسيح په
وسيله دُنيا دَ خپل ځان سره پُخلا کوله اَؤ دَ هغوئ ګُناهُونه
ئے دَ هغوئ په ذمه وانهٔ چول اَؤ دَ پُخلا کولو پيغام ئے زمُونږ
په حواله کړو.

٢٠ نو اوس مُونږ دَ مسيح اَستازی يُو ګويا زمُونږ په وسيله
خُدائے دا خواست کوی، مُونږ دَ مسيح دَ طرف نه منت کوُو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چه دَ خُدائے سره پُخلا شئ. ۲۱ هغه چا چه گُناه نۀ پیژنده
خو خُدائے هم هغه زمُونږ دَ پاره گُناه وگڼلو چه مُونږ په هغۀ
کښے دَ خُدائے صداقت شُو.

# ۶

۱ اَؤ مُونږ چه دَ خُدائے په کار کښے شریک یُو، دا
خواست کوُو چه دَ خُدائے کُوم فضل چه تاسو قبُول کړے
دے، هغه عبث مه گڼئ. ۲ څنگه چه هغه په خپله فرمائی :

”ما دَ خپل فضل په وخت ستاسو واؤریدل

اَؤ دَ خلاصُون په ورځ مے ستاسو مدد وکړو.“

گورئ دَ قبلیدو وخت اوس راغلے دے، گورئ دا دَ
خلاصُون ورځ ده!

۳ دَ دے دَ پاره چه زمُونږ خدمت ضائع نۀ شی نو مُونږ په
هیڅ خبره کښے دَ تیندک خوړلو موقع نۀ ورکوُو، ۴ بلکه
دَ خُدائے دَ خادمانو په شان په هره خبره کښے خپل ځان
ښکاره کوُو، یعنے ډیر په صبر، په مُصیبت، په حاجتمندئ
اَؤ په تنگسیاؤ، ۵ په کروړو خوړلو، په قید، په گډوډ، په
محنت، په شوگیرو، په لوږه، ۶ په پاکئ، په عِلم، په زغم، په
مهربانئ، په رُوحُ القُدس، په بے ریا مینه، ۷ په حق کلام
سره، دَ خُدائے په قُدرت، دَ صداقت په وسلو چه حمله کوی
اَؤ دفاع کوی، ۸ په عزت اَؤ بے عزتئ، دَ بدنامئ اَؤ
نیکنامئ په وسیله، اگر که گُمراه کوُونکی معلُومیږُو خو بیا
هم رښتینی یُو، ۹ نامعلُوم یُو خو بیا هم مشهُور یُو، مړ
کیدُونکی یُو خو گورئ ژوندی یُو، وهل خوړُونکی یُو خو مړۀ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کيږُو نه، ۱۰ غمژن يُو خو تل خوشحاله اوسُو، غريبان يُو خو ډير خلق غنيان کوُو، خواران يُو خو بيا هم هر څۀ لرُو.

۱۱ اَئے کورنتيانو! مُونږ ستاسو سره صفا خبرے وکړلے اَؤ مُونږ تاسو ټولو ته خپل زړُونه پرانستلی دی ۱۲ زمُونږ زړُونه تنګ نۀ دی خو ستاسو زړُونه تنګ دی. ۱۳ لکه څۀ رنګ چه پلار خپلو بچو ته وائی نو تاسو هم په بدل کښے مُونږ ته خپل زړُونه پرانزئ.

## دَ ژوندی خُدائے کور

۱۴ څوک چه په مسيح ايمان نۀ لری، دَ هغوئ سره په جغ کښے مه ځئ. دَ صداقت اَؤ ناصداقت په خپلو کښے څۀ تعلق؟ بيا دَ رڼا اَؤ تيارے دَ يو بل سره څۀ کار؟ ۱۵ آيا مسيح دَ شيطان سره اِتفاق کولے شی يا يو ايماندار دَ يو بے ايمان سره څۀ تعلق ساتلے شی څۀ؟ ۱۶ آيا دَ خُدائے کور دَ بُتانو سره څۀ جوړښت لری؟ ولے چه مُونږ دَ ژوندی خُدائے کور يُو لکه چه خُدائے په خپله فرمائی چه :

”زَۀ به په هغوئ کښے اوسم اَؤ په هغوئ کښے به ګرزم،

اَؤ زَۀ به دَ هغوئ خُدائے يم اَؤ هغوئ به زما خلق وی.“

۱۷ دے دَ پاره مالِک وائی چه :

”دَ هغوئ نه راوزئ اَؤ هغوئ پريږدئ

اَؤ ناپاکو څيزُونو ته لاس مه وروړئ،

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو زَۀ به تاسو قبُول کړم.

۱۸ اَؤ زَۀ به ستاسو پلار یم اَؤ تاسو به زما زامن لُونړه یئ،

دا دَ مالِک قادر مُطلق وینا ده.“

۷ ۱ نو اَئے خوږو دوستانو! چُونکه زمُونږ سره داسے
وعدے شوی دی نو راځئ چه مُونږ خپل ځانُونه دَ هر قِسمه
جسمانی اَؤ رُوحانی ناپاکو نه پاک کړُو اَؤ دَ خُدائے دَ ویرے
نه خپل پاکوالے کمال ته ورسوُو.

## دَ جماعت دَ توبے په حقله دَ پولوس خوشحالی

۲ مُونږ ته په خپلو زړُونو کښے ځائے راکړئ. مُونږ دَ
هیچا سره بے اِتفاقی نۀ ده کړے، چا ته مو نُقصان نۀ دے
رسولے اَؤ دَ چا نه مو خپل مقصد نۀ دے تر سره کړے.
۳ زَۀ تاسو ملامتول نۀ غواړم ځکه چه ما تاسو ته اول هم
وئیلی دی چه تاسو زمُونږ په زړُونو کښے داسے ځائے
مُوندلے دے چه که مرګ وی اَؤ که ژوندُون، مُونږ تاسو
سره یو ځائے یُو. ۴ زَۀ په تاسو باور کوم اَؤ چه زَۀ په
تاسو ډیر فخر کوم ما ته پُوره تسلی حاصله ده اَؤ چه په مُونږ
چه څومره مُصیبتُونه راځی په هغو ټولو کښے زما زړۀ
بیحده خوشحالیږی.

۵ هر کله چه مُونږ مِکدونیه ته راغلُو نو زمُونږ دے خوارو
بدنُونو ته دلته هم هیڅ آرام نۀ وو، هر طرف ته تکلیفُونه وُو،
زمُونږ نه ګیر چاپیر جګړے وے اَؤ زمُونږ په زړُونو کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ئے ویره وه. ٦ خو خُدائے چه عاجزانو ته تسلی ورکوی
نو دَ تیطوس په راتلو ئے مُونږ ته تسلی راکړله، ٧ نهٔ تش دَ
هغهٔ په راتلو بلکه دَ هغهٔ په هغه تسلئ چه هغهٔ ته له تاسو نه
ورکړے شوے وه، اَؤ چه هغهٔ مُونږ خبر کړلُو چه تاسو زما
په لیدو پسے څومره لیواله یئ اَؤ چه ډیر اَفسوس کوئ اَؤ
زما ملګرتیا کوئ نو په هغوئ زَهٔ نور زیات خوشحاله شوم.
٨ که چرے تاسو زما په هغه درلیږلی خط غمژن وئ نو
اوس په هغے پښیمانه نهٔ یم. زَهٔ به په دے هله خفه شوے
وے که چرے ما لیدلے وے چه هغه خط تاسو غمژن کړلئ
که هغه هم دَ لږ وخت دَ پاره وے. ٩ خو اوس په دے
خوشحاله یم چه ستاسو دَ غم نتیجه توبه ګاری شوه ولے چه
ستاسو غم دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق وو، دَ پاره دَ دے
چه تاسو ته زمُونږ دَ طرف نه څهٔ نُقصان نهٔ وی. ١٠ ځکه
چه دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق غم داسے توبه راپیدا کوی
چه دَ هغے اَنجام خلاصُون دے اَؤ په هغے پښیمانه کیدل
نِشته، خو دَ دُنیا غم مرګ پیدا کوی. ١١ نو ګورئ دغه
خبرے چه تاسو دَ خُدائے دَ مرضئ په مُطابق غمژن شوئ
په تاسو کښے څومره سرګرمی، عُذر، خفګان، ویره، شوق،
جوش اَؤ غیرت پیدا کړو. تاسو په هر جوړ دا ثابت کړل چه
تاسو په دے خبره کښے بر یئ. ١٢ نو بیا اګر که ما تاسو
ته لیکلی وُو خو په هغه وجه مے نهٔ وُو لیکلی، چا چه بے
اِنصافی وکړه اَؤ نهٔ په هغه وجه چه دَ چا سره چه بے
اِنصافی وشوه خو په دے وجه چه تاسو دَ خُدائے په حضُور
کښے زمُونږ څومره رښتینی تابعداره ظاهر شئ. ١٣ ځکه
خو زمُونږ دومره تسلی وشوه.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اَوُ زمُونږ په دے هم تسلی وشوه کله چه مُونږ ولیدل چه
تیطوس ډیر خوشحاله دے نو مُونږ ته نوره هم زیاته
خوشحالی حاصله شوه ځکه چه ستاسو ټولو په سبب هغهٔ
تسلی بیا مُونده. ۱۴ اَوُ که ما دَ هغهٔ په وړاندے ستاسو په
باب کښے څهٔ فخر وکړو نو شرمنده نهٔ شوم بلکه څنګه چه
مُونږ تاسو ته ټولے خبرے په رښتیا وکړے هم هغه شان چه
مُونږ کُوم فخر دَ تیطوس په وړاندے وکړو، هغه هم رښتیا
وختلو. ۱۵ اَوُ هر کله چه هغهٔ ته ستاسو دَ ټولو فرمانبردارئ
رایادیږی چه تاسو څنګه په ویره اَوُ رپیدلو هغه قبُول کړو نو
تاسو سره دَ هغهٔ دَ زړهٔ مینه نوره هم زیاتیږی. ۱۶ زَهٔ
خوشحاله یم چه ستاسو له طرفه په هره خبره کښے زما
تسلی ده.

## په مرضئ سره ورکول

٨ ۱ زما ورُونړو! مُونږ تاسو ته دَ خُدائے دَ هغه فضل خبر
درکوُو کُوم چه په مِکدونیه کښے په جماعتُونو باندے وشو.
۲ سره دَ دے چه په لوئے مُصیبت اَوُ په آزمیښت کښے
دَ هغوئ خوشحالی زیاته شوه اَوُ باوجُود دَ دے چه ډیر
غریبان وُو، هغوئ دَ زړهٔ دَ اِخلاصه ډیره چنده ورکړله. ۳
اَوُ زَهٔ ګواهی ورکوم چه هغوئ دَ خپل وس په مُطابق نه، بلکه
دَ وس نه زیات په خپله خوښه ورکړل. ۴ اَوُ دَ دے خیرات
اَوُ دَ پاکانو دَ خدمت دَ شراکت په باب کښے ئے ډیر په زارو
مُونږ ته خواست وکړو. ۵ اَوُ هغوئ زمُونږ دَ اُمید نه زیات
څهٔ ورکړل بلکه خپل زړُونه ئے اول مالِک ته اَوُ بیا دَ خُدائے
په مرضئ مُونږ ته وسپارل. ۶ دَ دے دَ پاره مُونږ تیطوس

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ته نصیحت وکړو لکه څنګه چه هغه اول شروع کړے وه، هم
هغه شان دِ په تاسو کښې دَ خیرات دغه کار هم پُوره کړی.
۷ نو لکه څنګه چه تاسو په هره خبره کښې، دَ ایمان اَؤ
کلام اَؤ عِلم اَؤ جوش اَؤ هغه مینه چه تاسو مُونږ سره لرله،
په هغې کښې وړاندې شوی یئ هم هغه شان دَ خیرات په
دې کار کښې هم وړاندې شئ. ۸ زَهٔ دَ حُکم په طور نهٔ
وایم بلکه دَ دې دَ پاره وایم چه دَ نورو دَ جوش دَ مِثال
ورکولو سره ستاسو دَ مینې رښتینوالې وآزمئیم. ۹ ځکه
چه تاسو زمُونږ دَ مالِک عیسیٰ مسیح دَ فضل نه خبر یئ چه
سره دَ دې چه هغه غنی وو خو ستاسو دَ پاره غریب جوړ
شو، دَ دې دَ پاره چه تاسو دَ هغه غریب په سبب غنیان شئ.

۱۰ اَؤ زَهٔ په دې باب کښې خپله رائې درکوم ځکه چه دا
ستاسو دَ پاره ښه ده، دَ پاره دَ دې چه تیر کال تاسو نه تش
په دې کار کښې بلکه دَ هغې په اِراده کښې هم وړُومبی
وئ، ۱۱ نو بیا دا کار پُوره هم کړئ. لکه څنګه چه تاسو په
اِراده کولو کښې چاخ وئ هم هغه شان دَ وس په مُطابق ئې
پُوره هم کړئ. ۱۲ ځکه چه که نیت وی نو خُدائې چنده دَ
هغې په مُطابق قبلوی څهٔ چه دَ سړی سره وی، نهٔ چه دَ
هغې په مُطابق چه دَ هغهٔ سره نهٔ وی. ۱۳ داسې خبره نهٔ
ده چه دَ نورو بوج کم شی اَؤ ستاسو زیات، باید چه یووالې
وی.

۱۴ چُونکه دا وخت تاسو سره زیات څهٔ دی اَؤ تاسو دَ
هغوئ کمې پُوره کولې شئ، اَؤ کله چه دَ هغوئ سره زیات
شی اَؤ تاسو سره کم، نو هغوئ به ستاسو کمې پُوره کولې

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی، اَؤ دغه شان به یووالے قائم ساتلے شی. ۱۵ لکه چه
صحیفے وائی چه:

”چا چه ډیر جمع کړل دَ هغهٔ څهٔ زیات نهٔ وُو

اَؤ چا چه کم جمع کړل دَ هغه څهٔ کم نهٔ وُو.“

## تیطوس اَؤ دَ هغهٔ ملګری

۱۶ دَ خُدائے شکر دے چه هغهٔ دَ تیطوس په زړهٔ کښے هم
ستاسو دَ پاره زما په شان سرګرمی پیدا کړے ده. ۱۷ نهٔ
تش دا چه تیطوس زمُونږ خواست ومنلو بلکه هغه خو دومره
خواهش لری چه هغه په خپله مرضئ زمُونږ نه اوس تاسو ته
در روانیږی. ۱۸ دَ هغهٔ سره مُونږ خپل هغه ورور درلیږُو دَ
چا تعریف دَ زیری له کبله په ټولو جماعتُونو کښے کیږی.
۱۹ اَؤ نهٔ صرف دا بلکه هغه دَ جماعتُونو له خوا نه دَ دے
چندے په رسولو کښے زمُونږ دَ سفر ملګرے مُقرر شو، اَؤ
مُونږ دا خدمت ځکه وکړو چه دَ مالِک جلال اَؤ زمُونږ شوق
ښکاره شی. ۲۰ اَؤ مُونږ دَ هغه لوئے چندے په باب کښے
چه خدمت کوُو، خپل ځانُونه ساتُو چه څوک په مُونږ
اِعتراض ونهٔ کړی. ۲۱ ځکه چه مُونږ دَ داسے څیزُونو تدبیر
کوُو چه هغه نهٔ صرف دَ خُدائے په مخکښے غوره وی بلکه
دَ خلقو په مخکښے هم.

۲۲ اَؤ مُونږ دَ هغوئ سره هغه بل ورور درلیږلے دے کُوم
چه مُونږ په ډیرو خبرو کښے څو څو واره آزمائیلے اَؤ
سرګرم مُوندلے دے خو هر کله چه دَ هغهٔ په تاسو ډیر باور
دے ځکه خو اوس زیات په جوش کښے دے. ۲۳ که

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک دَ تیطوس په باب کښې تپوس وکړی نو هغه زما
شریک اَؤ ستاسو دَ پاره زما دَ خدمت ملګرے دے. که
چرے زمُونږ دَ نورو ورُونړو په باب تپوس وشی نو هغوئ دَ
جماعتُونو اَستازی اَؤ دَ مسیح جلال دی. ۲۴ نو بیا خپله
مینه ورته وښایئ چه ټول جماعتُونه ووینی چه مُونږ په تاسو
بے فائدے فخر نۀ کوُو.

## دَ پاکانو دَ پاره چنده

۹ ۱ څۀ چنده چه دَ پاکانو دَ پاره کیږی دَ هغے په باب
کښې زما تاسو ته څۀ لیکل عبث دی. ۲ ځکه چه زَۀ
ستاسو دَ شوق نه خبر یم چه دَ هغے په وجه دَ مِکدونیه دَ
خلقو دَ وړاندے زَۀ په تاسو فخر کوم چه دَ اخیه خلق دَ تیر
کال نه تیار دی اَؤ ستاسو جوش ډیر خلق راوپارول. ۳
خو زما دَ دے ورُونړو دَ درلیږلو مقصد دا دے چه مُونږ په
دے باب کښې چه په تاسو کُوم فخر کوُو، هغه بے مقصده
پاتے نۀ شی بلکه تاسو زما دَ وینا په مُطابق تیار اوسئ لکه
څنګه چه ما هغوئ ته ستاسو په باب کښې وینا کړے ده.
۴ ځکه چه که زۀ دَ مِکدونیه نه دَ ځان سره خلق راولم اَؤ
هغوئ تاسو تیار ونۀ مُومی نو دا به زمُونږ اَؤ ستاسو دَ پاره
هم څومره شرمندګی وی ځکه چه مُونږ په تاسو باور ښوولے
دے. ۵ دَ دے دَ پاره ما دا ضروری وګڼل چه دے ورُونړو
ته ووایم چه کورنتیانو ته اول لاړ شی چه ستاسو هغهَ دَ
ورکړے لوظ چه کړے دے، دَ آګاهو نه تیار وساتی، نو بیا به
دا چنده دَ ورکړے په طور وی، نۀ چه دَ زبردستئ په طور.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۶ خو یاد لرئ چه څوک چه لږه کرونده کوی هغه به لږه
ریبی، اَؤ چه څوک زیاته کرونده کوی هغه به زیاته ریبی. ۷
اَؤ هر چا چه څومره په زړهٔ کښے مُقرر کړی دی، هغه
هومره به ورکوی اَؤ نهٔ په مجبورئ اَؤ نهٔ دَ فرض په طور
ځکه چه خُدائے په خوشحالئ ورکوُونکی سره مینه لری. ۸
اَؤ خُدائے تاسو له دَ حاجت نه زیات درکولے شی دَ پاره دَ
دے چه تاسو سره تل هر څهٔ زیات وی اَؤ داسے دَ هر نیک
کار دَ پاره دِ تاسو سره زیات وی ۹ اَؤ صحیفے دَ داسے
سړی په باب کښے وائی چه :

"هغه خوارانو له په سخاوت ورکوی،

دَ هغهٔ خیرات به تل تر تله باقی وی."

۱۰ نو چه خُدائے دَ کرونده کرُونکی دَ پاره تُخم اَؤ دَ
خوراک دَ پاره ډوډئ ورکوی، هم هغه به تاسو ته تُخم درکوی
اَؤ په هغے کښے به زیاتوالے اچوی اَؤ ستاسو چندے به
زیاتوی. ۱۱ اَؤ تاسو به هر یو څیز زیات بیا مُومئ چه هر
قِسم سخاوت به کولے شئ، اَؤ دَ دے نیتجه به دا وی چه ډیر
خلق به ستاسو چنده زمُونږ په وسیله مُوندلو سره دَ خُدائے
شکر گذاری وکړی. ۱۲ ولے چه دَ دے په کولو به نهٔ تش دَ
پاکانو ضرورتُونه پُوره شی بلکه دَ ډیرو خلقو له خوا به دَ
خُدائے ډیره شکر گذاری کیږی. ۱۳ ځکه چه دے خدمت
نه به خلقو ته ثابت شی چه تاسو نهٔ یواځے دَ مسیح زیرے
منئ بلکه دَ هغهٔ تابعداری هم کوئ، هغوئ به دَ دے دَ پاره دَ
خُدائے شکر کوی اَؤ دَ دے دَ پاره هم چه تاسو نهٔ یواځے دَ
هغوئ بلکه دَ ټولو خلقو مدد دَ زړهٔ دَ اِخلاصه وکړلو. ۱۴

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځکه چه په تاسو دَ خُدائے دَ لوئے فضل په سبب چه په
تاسو شوے دے، ستاسو ليواله دی اَوُ ډير په مينه ستاسو دَ
پاره دُعا غواړی. ۱۵ شکر دے دَ خُدائے دَ هغه بخښنے چه
دَ بيان نه بهر ده.

## دَ پولوس دَ خپل خدمت په حقله جواب

۱۰ ۱ زَهٔ پولوس په خپله تاسو ته خواست کوم، چه
ځنے خلق زما په حقله وائی چه زَهٔ ستاسو په مخکښے
ويريدُونکے اَوُ پښی شا زړهٔ ور يم، خو زَهٔ دَ مسيح زغم اَوُ
نرمی دريادوم، ۲ بلکه مِنت کوم چه ما ته په خپله دَ
حاضريدو اَوُ په هغه شان زړهٔ ورکيدو حاجت پيښ نهٔ شی
لکه څنګه چه زَهٔ په ځنو خلقو دَ زړهٔ ورکيدو اِراده لرم څوک
چه مُونږ داسے شماری چه مُونږ دَ دُنيا په مطابق ژوندُون
تيرُوُ. ۳ اګر که مُونږ په دُنيا کښے ژوندُون تيرُوُ خو دَ
دُنيا په مُطابق جنګيږُو نه. ۴ ځکه چه زمُونږ دَ جنګ
وسلے اِنسانی نهٔ دی بلکه دَ خُدائے په قُدرت دَ بدو قلاګانو دَ
نړولو جوګه دی. ۵ ځکه خو مُونږ دَ دليلُونو اَوُ هر هغه
رُکاوټ خيز چه دَ خُدائے دَ پيژندګلئ خلاف ئے سر اُوچت
کړے دے، نړوُو اَوُ هر يو خيال قيدوُو اَوُ دَ مسيح فرمابرداره
کوُو. ۶ اَوُ هر کله چه ستاسو فرمانبرداری ثابته شی نو بيا
مُونږ تيار يُو چه دَ هر قِسم نافرمانئ سزا ورکړُو.

۷ تاسو تش هغه څيزُونو ته ګورئ کُوم چه سترګو ته
ښکاری. که دَ چا په ځان دا باور وی چه هغه دَ مسيح دے،
نو په خپل زړهٔ کښے دِ دا سوچ هم وکړی چه څنګه هغه دَ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مسیح دے هم هغه شان مُونږ هم دَ مسیح یُو. ۸ ځکه چه
که زۀ په هغه اِختیار کُوم چه ستاسو دَ جوړولو دَ پاره، نۀ چه
دَ ورانولو دَ پاره مالِک راکړے دے څۀ زیات فخر هم وکړم
نو زَۀ به شرمنده نۀ یم. ۹ زَۀ داسے ځکه وایم چه دَ
خطُونو په وسیله ستاسو ویرۇونکے نۀ شم. ۱۰ ځکه چه
ځنی وائی چه دَ هغۀ خطُونه اثرناک اَؤ زبردست دی خو هر
کله چه په خپله موجُود وی نو کمزورے شان معلُومیږی اَؤ دَ
هغۀ تقریر فضول دے. ۱۱ نو دغه شان ګنُونکی دِ پوهه شی
چه څنګه چه په خطُونو کښے پشی شا زمُونږ کلام دے نو
دغه شان به دَ مخامخ کیدو په وخت کښے زمُونږ کار هم
وی.

۱۲ ځکه چه مُونږ دا جُرات نۀ لرُو چه خپل ځانُونه په هغه
څو کسانو کښے شمار کړُو یا دَ هغو سره مُقابله وکړُو
څوک چه خپله نیکنامی زیاتوی، خو هغوئ چه په خپله په
خپلو کښے دَ ځانُونو اندازه ولګوی اَؤ په خپله په خپلو
کښے مُقابله وکړی نو په هیڅ نۀ پوهیږی. ۱۳ خو دا زمُونږ
عادت نۀ دے چه مُونږ به دَ اندازے نه زیات فخر کوُو بلکه دَ
خدمت په باب کښے دعویٰ کوُو په هغه حد کښے، کُوم چه
خُدائے زمُونږ دَ پاره مُقرر کړے دے اَؤ چه په کښے تاسو
هم راغلی یئ. ۱۴ ځکه چه مُونږ خپل ځانُونه دَ هغه حد نه
زیات نۀ لویوُو لکه څنګه چه زمُونږ دَ خدمت په هغه حد
کښے وی، نو دا زمُونږ حق نۀ وو که مُونږ تاسو ته راغلی نۀ
وُو، اَؤ دغسے مُونږ اولنی کسان وُو چه تاسو ته دَ مسیح دَ
زیری په ورکولو در رسیدلی یُو. ۱۵ اَؤ مُونږ دَ نورو په
خواریٔ فخر نۀ کوُو خو اُمید لرُو چه ستاسو په ایمان کښے

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترقی وشی نو مُونږ به ستاسو په وسیله دَ خپل حد په مُطابق
نور هم وړاندے شُو، ۱۶ دَ دے دَ پاره چه ستاسو دَ حدُونو
نه لرے زیرے ورسُوو، نۀ چه دَ نورو خلقو په علاقه کښے په
جوړو شوو څیزُونو فخر وکړُو.

۱۷ غرض دا چه "څوک چه فخر کوی هغه دِ په مالِک
وکړی." ۱۸ ځکه چه څوک په خپله خپل تعریف کوی هغه
مقبُول نۀ دے بلکه دَ چا تعریف چه مالِک کوی هم هغه
مقبُول دے.

## پولوس اَؤ دَ دروغو رسُولان

۱۱ ۱ ارمان که تاسو زما لږه شان بے وقوفی زغملے
شوے، تاسو زما زغمئ خو. ۲ زۀ تاسو دَ پاره دَ خُدائے
په شان غیرت لرم ولے چه ما دَ یو خاوند، یعنے چه مسیح
سره ستاسو کوژدن کړے ده دَ دے دَ پاره چه تاسو دَ یوے
پاکے پیغلے په شان دَ مسیح په وړاندے حاضر کړم. ۳
خو ویرېږم چه داسے ونۀ شی لکه څنګه چه مار په خپل
مکر بی بی حوا وغُلوله هغه شان ستاسو خیالات هم دَ هغه
خُلُوص اَؤ پاکوالی نه بل خوا شی، کُوم چه دَ مسیح سره په
کار دی. ۴ ځکه چه که څوک راشی اَؤ هغه دَ بل عیسیٰ
پیغام ورکړی دَ چا چه مُونږ پیغام نۀ دے ورکړے، یا تاسو ته
دَ رُوحُ القُدس په ځائے څۀ بل رُوح ملاویږی، یا بل زیرے
درکړے شو، کُوم چه تاسو له مُونږ نه نۀ وو مُوندلے، نو بیا
تاسو ډیر په خوشحالئ دَ هغۀ آؤرئ. ۵ زۀ خو خپل ځان دَ
هغه غټو رسُولانو نه کم نۀ شمارم. ۶ که چرے په تقریر

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې ساده یم نو دَ عِلم په وجه نهٔ یم بلکه دا مُونږ په هر حال
کښې اَؤ په ټولو خبرو کښې تاسو ته ظاهر کړو.

٧ آیا دا زما غلطی وه چه ما تاسو ته دَ خُدائې زیرے
مُفت درورسولو اَؤ ځان مے لاندے کړو چه تاسو اُوچت
شئ؟ ٨ دا ربښتیا دی چه ما ستاسو دَ خدمت دَ پاره دَ نورو
جماعتُونو نه مدد واخستو. ٩ اَؤ کله چه زهٔ ستاسو سره
وم اَؤ حاجتمن شوے وم نو ما بیا هم په چا پیټے وانهٔ چولو
ځکه چه دَ مِکدونیه نه ورُوڼه راغلی وُو اَؤ زما حاجت ئے
پُوره کړے وو اَؤ ما په هره خبره کښے په تاسو دَ پیټی
اچولو نه ځان ساتلے دے اَؤ ساتم به ئے. ١٠ دَ مسیح
حقیقت چه په ما کښے دے نو ځکه زهٔ دا وایم چه دَ اخیه په
علاقه کښے به هیڅوک ما دَ دے فخر نه منع نهٔ کړی. ١١ دَ
څهٔ دَ پاره؟ آیا دَ دے دَ پاره چه زهٔ دِ تاسو سره مینه نهٔ لرم؟
په دے خُدائے خبر دے چه زهٔ تاسو سره مینه لرم.

١٢ خو چه څهٔ کوم هم هغسے به کوم، دَ پاره دَ دے چه دَ
موقعے لټوُونکو ته موقع ورنهٔ کړم، بلکه هغوئ فخر کوی چه
هغوئ زمُونږ په شان خدمت کوی. ١٣ ځکه چه داسے خلق
دروغژن رسُولان دی اَؤ په دوکه کارکوُونکی دی چه خپل
ځانُونه دَ مسیح دَ رسُولانو په شان جوړ کړی. ١٤ په دے
کښے څهٔ تعجب نِشته ځکه چه شیطان هم خپل ځان دَ یو
نُورانی فرښتے په شکل جوړ کړی. ١٥ نو بیا که دَ هغهٔ
خادمان دَ ربښتُونو خادمانو په شان ځان جوړ کړی نو څهٔ
لویه خبره نهٔ ده خو دَ هغوئ اَنجام به دَ هغوئ دَ کارُونو په
مُطابق وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دَ پولوس دَ رسُول توب په وجه زغم

١٦ زَهٔ بیا وایم چه ما دِ څوک بے وقُوف ونهٔ ګڼی اَؤ که ګڼی
نو دَ بے وقوف په شان مے قبُول کړئ چه زَهٔ هم لږ شان
فخر وکړم. ١٧ زَهٔ چه اوس څهٔ وایم هغه دَ مالِک په طور نه
بلکه په بے وقُوفئ سره اَؤ دَ هغه جُرات سره ئے وایم کُوم
چه په فخر کولو کښے وی. ١٨ ځکه چه نور ډیر په
جسمانی طور فخر کوی زَهٔ به ئے هم کوم. ١٩ ځکه چه
تاسو عقلمند یئ اَؤ په خوښه بے وقُوفان زغمئ. ٢٠ هر کله
چه څوک تاسو غُلامان کوی یا مو داړی، یا مو راګیروی، یا
خپل ځان لوئے جوړوی، یا تاسو په مخ په څپیړه وهی، نو
تاسو ئے زغمئ. ٢١ مُونږ خو تاسو سره داسے سلُوک نهٔ
دے کړے، که تاسو دا زمُونږ کمزورتیا خیال کوئ، نو کوئ.
خو که څوک فخر کوی نو زَهٔ به هم فخر کوم اګر که زَهٔ دا
بیا په بے وقُوفئ وایم. ٢٢ آیا هغوئ عبرانیان دی؟ نو زَهٔ هم
یم. آیا هغوئ اِسرائیلیان دی؟ نو زَهٔ هم یم. آیا هغوئ دَ اِبراهیم
دَ نسل نه دی؟ نو زَهٔ هم یم. ٢٣ آیا هغوئ دَ مسیح خادمان
دی؟ زما دا وینا دَ لیونتوب په شان ښکاری، خو زَهٔ دَ هغوئ
نه زیات یم، په محنت کښے زیات، په قید کښے زیات، په
کروړو خوړلو کښے دَ حد نه زیات. څو څو واره دَ مرګ په
خطرو کښے پاتے شوے یم، ٢٤ ما دَ یهودیانو نه پینځهٔ
ځله یو کم څلویښت کروړے وخوړلے، ٢٥ درے ځله په
بینتونو ووهلے شوم، یو ځلے سنګسار کړے شوم، درے
ځلے دجهاز دَ ماتیدو په بلا کښے ونښتم اَؤ یوه شپه اَؤ ورځ
مے په سمندر کښے تیر کړل. ٢٦ زَهٔ څو څو ځله په سفر
کښے دَ دریابونو په خطرو کښے، دَ ډاکوانو په خطرو

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کښې، دَ خپل قوم په خطرو کښې، دَ غيرو قومُونو په خطرو
کښې، دَ ښار په خطرو کښې، دَ بيابان په خطرو کښې، دَ
سمندر په خطرو کښې، دَ دروغژنو ملګرو په خطرو کښې،
۲۷ په محنت اَؤ مشقت کښې، څو څو ځله په بې خوبئ،
لوږو اَؤ تندو کښې، دَ يخنئ اَؤ بربنډتوب په حالت کښې
پاتې شوې يم. ۲۸ دَ دې خبرو نه علاوه چه دَ هغوئ زَهٔ
ذکر کول نهٔ غواړم دَ ټولو جماعتُونو فکر زما په زړهٔ کښې
هره ورځ راځی. ۲۹ دَ هغوئ په کمزورتياؤ زَهٔ کمزورې
کيږم نه څهٔ؟ دَ هغوئ په تيندک خوړلو زما زړهٔ نهٔ خوږيږی
څهٔ؟ ۳۰ که فخر کول ضروری وی نو زَهٔ به په خپلو
کمزورتياؤ فخر وکړم. ۳۱ دَ مالِک عيسیٰ دَ خُدائې اَؤ پلار
دِ هميشه حمد و ثنا وی، هغه خبر دے چه زَهٔ هر څهٔ چه وايم
هغه رښتيا دی. ۳۲ کله چه زَهٔ په دمشق کښې وم نو دَ
اَرِتاس بادشاه حاکم دَ ټول ښار نه چاپيره څوکئ کښينولې
وه چه ما ګرفتار کړی. ۳۳ اَؤ زَهٔ دَ کړکئ په لاره په ټوکرئ
کښې کُوز کړې شوم اَؤ دَ هغوئ دَ لاسه بچ شوم.

## رويا اَؤ کشفُونه

۱۲ ۱ ما ته فخر کول ضروری دی اګر که فائده من نهٔ
دی خو اوس به دَ مالِک دَ رويا اَؤ دَ کشف ذکر کوم. ۲ زَهٔ
په مسيح کښې يو سړے پيژنم چه څوارلس کاله کيږی چه
هغه آيا په وجُود کښې وو يا بې له وجُود نه وو، زَهٔ خبر نهٔ
يم، خُدائې خبر دے، ناڅاپی دريم آسمان ته وخيژولې شو.
۳ اَؤ زَهٔ خبر نهٔ يم چه دا سړے، آيا په وجُود کښې يا بې
له وجُوده وو، زَهٔ خبر نهٔ يم خُدائې خبر دے، ۴ ناڅاپی

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فردوس ته ورسولے شو اَوْ داسے خبرے ئے واؤریدے چه
داسے مُقدسے اَوْ پاکے وے چه دَ بیانولو نهٔ دی اَوْ دَ هغو
بیانول اِنسان ته ناروا دی. ۵ زَهٔ به په داسے سړی خو
فخر کوم خو په خپل ځان نه بلکه زَهٔ به په خپلو کمزورتیاؤ
فخر وکړم. ۶ اَوْ که فخر کول هم غواړم نو بے وقوف به
نهٔ یم ځکه چه رښتیا به وایم، خو بیا هم نهٔ وایم ځکه چه
څوک ما دَ هغهٔ نه زیات ونهٔ ګڼی چه څنګه چه مے وینی یا
له ما نه آؤری.

۷ اَوْ دَ کشفُونو دَ زیاتوالی په وجه زما دَ مغرُورتیا دَ
اندیښنے له کبله زما په بدن کښے ازغے وسُوخولے شو،
یعنے دَ شیطان فرښته چه ما په سُوکونو وهی چه زَهٔ مغرور
نهٔ شم. ۸ په دے حقله ما مالِک ته درے ځله خواست
وکړو چه دا زما نه لرے شی. ۹ خو هغهٔ ما ته ووئیل چه
زما فضل ستا دَ پاره کافی دے ځکه چه زما طاقت په
کمزورتیاؤ کښے پُوره کیږی چُنانچه زَهٔ به ډیر په خوشحالئ
په خپلو کمزورتیاؤ فخر وکړم تر څو چه دَ مسیح قوت په ما
کښے وی. ۱۰ دَ دے دَ پاره چه زَهٔ دَ مسیح دَ خاطره په
کمزورتیاؤ کښے، په بے عزتئ کښے، په حاجت کښے، په
عذابُونو کښے اَوْ په تنګسیاؤ کښے خوشحاله یم، ځکه چه
هر کله چه زَهٔ کمزورے یم نو هغه وخت زورَور یم.

## دَ پولوس دَ کورنتیانو دَ جماعت په حق کښے اندیښنه

۱۱ زَهٔ بے وقوف خو جوړ شوم ځکه چه زَهٔ تاسو مجبُور

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کړم خو تاسو ته زما ستائينه کول په کار وه په وجه دَ دے
چه زَهٔ هيڅ هم نهٔ يم، خو بيا هم دَ هغه غټو رسُولانو نه په هيڅ
طور کم نهٔ يم. ۱۲ دَ رسُول نخښے ستاسو په وړاندے ما په
ډير صبر سره په نخښو اَؤ په مُعجزو اَؤ عجيبه کارُونو ښکاره
کړلے. ۱۳ تاسو په کُومه يوه خبره کښے دَ نورو جماعتُونو
نه کم يئ بے له دے چه ما په تاسو پيټے وانهٔ چولو؟ زما دا
بے اِنصافئ معاف کړئ!

۱۴ ګورئ، په دريم ځل تاسو له راتلو ته تيار يم اَؤ په تاسو
به پيټے وانهٔ چوم ځکه چه زَهٔ ستاسو دَ مال نه بلکه ستاسو
غوښتُونکے يم، ځکه چه بچو ته دَ مور پلار دَ پاره څهٔ جمع
کول نهٔ دی په کار بلکه مور پلار ته دَ بچو دَ پاره. ۱۵ اَؤ زَهٔ
به ستاسو دَ پاره ډير څهٔ په خوشحالئ خرڅ کړم بلکه خپل
ځان به خرڅ کړم. که چرے زَهٔ تاسو سره زياته مينه لرم نو
آيا تاسو به ما سره کمه مينه ولرئ څهٔ؟

۱۶ دا ومنئ چه ما په خپله په تاسو پيټے نهٔ وی اچولے خو
کيدے شی چه مکار يم ځکه چه به مے تاسو په ټګئ راګير
کړی يئ. ۱۷ نو بيا څوک چه ما تاسو ته درولېږل نو په
هغوئ کښے دَ چا په وسيله مے په ټګئ درنه واخستل څهٔ؟
۱۸ ما دَ تيطوس مِنت وکړو چه هغه لاړ شی اَؤ هغهٔ سره
مے يو ورور درولېږلو، خو آيا تيطوس دَ تاسو نه په ټګئ
واخستل څهٔ؟ آيا زمونږ دَ دواړو چال چلن دَ يکی يو رُوح دَ
هدايت په مُطابق نهٔ وو څهٔ؟ آيا مُونږ په يو بل پسے نهٔ يُو
روان څهٔ؟

۱۹ شايد چه تاسو دا ګڼئ چه تر اوسه مُونږ درته خپل ځان

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپینولو نه، مُونږ خو خُدائے حاضر ناظر ګڼو اَؤ په مسیح
کښے خبرے کوُو. اَئے زما خوږو ورُونړو! دا هر څۀ ستاسو
دَ ترقئ دَ پاره دی. ٢٠ ځکه چه زَۀ ویرېږم، هسے نۀ وی چه
زَۀ درشم اَؤ تاسو چه څنګه غواړم هغسے مو ونۀ مُومم اَؤ
څنګه چه تاسو نۀ غواړم ما هغسے ومُومئ، زَۀ ویرېږم چه په
تاسو کښے جګړه، کینه، غُصه، بے اِتفاقی، بده وینا،
غیبتُونه، ډُوزے اَؤ فساد نۀ وی. ٢١ ویرېږم چه زَۀ درشم نو
زما خُدائے ما ستاسو په وړاندے عاجز نه کړی اَؤ زَۀ په
ډیرو خلقو چه ګُناهُونه ئے کړی دی، اَفسوس ونۀ کړم ځکه
چه هغوئ دَ هغے ناپاکئ، حرامکارئ اَؤ شهوت پرستئ نه چه
ئے کړی دی، توبه نۀ ده کړے.

## آخری خبرے اَؤ سلامُونه

١٣ ١ دا زَۀ تاسو ته په دریم ځل درځم. "دَ دوؤ یا دَ
دریو ګواهانو دَ خُلے نه به هره خبره ثابته شی." ٢ لکه
څنګه چه زَۀ په دویم ځل حاضر وم نو دَ وړاندے نه مے
وئیلی وُو، هغه شان اوس په غیر حاضرئ کښے هم هغه
خلقو ته چا چه اول ګُناهُونه کړی دی اَؤ نورو ټولو خلقو ته دَ
اول نه وایم چه که چرے بیا درځم نو مُعاف به ئے نۀ کړم.
٣ ځکه چه تاسو دَ دے ثبُوت غواړئ چه مسیح په ما
کښے خبرے کوی. هغه تاسو دَ پاره کمزورے نۀ دے بلکه
تاسو ته خپل قوت ښکاره کوی. ٤ هو، هغه دَ کمزرتیا په
وجه په سولئ کړے شو خو دَ خُدائے دَ قُدرت په سبب
ژوندے دے اَؤ مُونږ هم په هغۀ کښے کمزوری خو یُو خو دَ
هغۀ سره به دَ خُدائے دَ هغه قُدرت په سبب ژوندی یُو چه

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو خدمت وکړُو.

۵ تاسو خپل ځانُونه وآزميئ چه په ايمان يئ يا نه، دَ
ځانُونو جاج واخلئ. آيا تاسو په خپل باب کښې په دې نۀ
يئ خبر چه مسيح عيسیٰ په تاسو کښې دے، ګنې تاسو
مقبُول نۀ يئ؟ ۶ خو زۀ اُميد لرم چه تاسو به ئے معلُومه
کړئ چه مُونږ خو نا مقبُوله نۀ يُو. ۷ اَؤ مُونږ دَ خُدائے نه
دُعا غواړُو چه تاسو څۀ بدی ونۀ کړئ دَ دے دَ پاره نه چه
مُونږ مقبُول ښکاريږُو بلکه دَ دے دَ پاره چه تاسو نيکی
وکړئ، اګر که مُونږ نا مقبُول هم شُو. ۸ ځکه چه مُونږ دَ
حق خِلاف هيڅ نۀ شُو کولے خو تش دَ حق دَ خاطره. ۹
نو مُونږ خوشحاله يُو چه مُونږ کمزوری يُو اَؤ تاسو زورَور يئ
اَؤ دا دُعا هم کوُو چه تاسو کامل شئ. ۱۰ زۀ دا خبرے په
غير حاضرئ کښې دَ دے دَ پاره ليکم چه هلته درشم نو دَ
هغه اِختيار په مُطابق سختی ونۀ کړم کُوم اِختيار چه مالِک
ما ته ستاسو دَ جوړولو دَ پاره راکړے دے، نۀ چه دَ ورانولو
دَ پاره.

۱۱ نو اَئے ورُوڼو! خُدائے مو مل شه، کامل شئ، خاطر
جمع لرئ، په يو اتفاق اوسئ، صُلح ساتئ، نو دَ مينے اَؤ دَ
سلامتئ خُدائے به تاسو سره وی.

۱۲ اَؤ يو بل ته په پاکو ښکلولو سره سلام وايئ. ۱۳ ټول
پاکان تاسو ته سلام وائی.

۱۴ دَ مالِک عيسیٰ مسيح فضل اَؤ دَ خُدائے مينه اَؤ دَ رُوحُ
القُدس شراکت دِ تاسو ټولو سره وی.

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.6699
pashtobibles.org © عام ۱۹۹۶
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.